مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۴/۲۴

# لنډۍ، د ښتولو ستونزه

## ۳۷۴مه برخه

گلاب، گلاب ځوانانو پرېښوې
وطنه چا درته ښېراوې کړېدينه

د یاراني مې ورته ووې
جنې ترکوره پورې ځي، ښکنځلکوينه

مدام دې بد راسره کړي
کومه خوره خاطره نه‌درنه‌لرمه

د لنډيو د دې برخې لەپاره دا لاندې لنډۍ برابرې شوې دي:

**د ژمي‌شپه ده، باران نه‌شته**
**څوک مسافرشول، څوک مرگي خوړلي‌دينه**

**دومره‌وخت نه‌دی، دا به تېرشي**
**که بيا رانه‌شي، نو ښېرا درته کومه**

**د غوجيره په گل يې مرکړې**
**چې غوجيره په وطن گلشي، وژاړمه**

**د جدايي زور مې ليدلی**
**دوه چې جلاشي، ژړا زه ورته کوومه**

**د وطن غېږه د مورغېږ ده**
**ځوانان د مور غېږه پرېږدي، په سفر ځينه**

**د بې‌وسی کیسي به نه‌کړې**
**په خپل وطن کې سترگې تيتې‌گرځومه**

**د مازديگر زيږيه لمره**
**کلي ته وايه مساپر دې يادوينه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د زنده‌گي پوښتنه مه‌کړه
خپلې‌ځنګلي غبرګوم، سر ته مې ږدمه

د جانان غم راسره مل دی
حال مې بدل دی، لیونی پرغرونو یمه

د بېوسی حد ته مې ګوره
خالق راکړی‌ژبه ګونګه ګرځومه

د یاراني مې ورته ووې
جنی ترکوره پورې ځي، ښکنځل‌کوینه

دا غریبي مې خوښه نه‌ده
عزیزولی کې سړی پاتې‌راولینه

د جدایي‌ورځې ترخې وي
خدای دې هېڅوک له یاره نه‌جداکوینه

د یار له غمه که مرګی وای
اوس به زما د قبر رنګ وای دېوالونه

د سرو ګلونو ویش شروع و
زه بدنصیبه خالي‌لاس ترې راستون‌شومه

د زنده‌ګی پوښتنه مه‌که
پر زړه مې سل‌ټیکټره خاورې تلې دینه

د غره پرسر دې ښامار وخوره
چې ډلې، ډلې پاړوګان د خبژومه

د پښتنو وطن ته راشه
چې دې زرغون شي د زړګي سوي‌باغونه

راشه دا خپل تصویر سمبال‌که
تر نیموشپو مې زوروي غرکه یې کړمه

زه مې له خپله یاده وزم
تا نه به ځه‌ګیله کوم چې هېر دې کړمه

زما د زړه د سر غندله
پیدا له بله، زړه زما درپسې‌چوینه

زما د زړه صبرېدل ګران دي
جانان چې داسې خوی کوي، صبر به شینه

زما د مرګ‌زیری پرې وکړئ
چې په درشل پورې ولاړه وچه‌شینه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**زما په زړه غمونه ډېردي**
**د ژمي سترېشپې په ويښه تېرومه**

**زړګی مې داسې راته وايي**
**چې ځان ملنګ که له دونيا واخله لاسونه**

**زړګيه غم ته ځان تکړه‌کړه**
**چې پرې مئېن وي، هغه بل کلي ته وړينه**

**لالی دې خپل انتخاب وکړي**
**تاوان پرې نه يم، چې منت ورته کومه**

**له ملنګانو سره ملوای**
**پروت په ځنګل وای، چې مې نه ليدای غمونه**

**مرګی مې ښه دی چې پناه‌شم**
**ببلتون‌وهلی زړه مې صبر نه‌کوينه**

**ما لاس‌نيولی کور ته بوزئ**
**نن مې د يار له غمه بنګ‌ځکلې‌دينه**

**مينه دې ورځ په ورځ زياتېږي**
**يا شهزاده يې، يادې کوډې کړې‌دينه**

**مودې دې وشوې، چې رانه‌غلې**
**ورکه لاليه انتظار دې وخوړمه**

**مدام دې بد راسره کړي**
**کومه خوږه خاطره نه‌درنه‌لرمه**

**مرور يار مې څنګ ته راغی**
**په غړيدلو سترګو وينم جنتونه**

**مينه بلا ده، مين مه‌شې**
**داسې به ته شې، لکه زه چې څنګه يمه**

**ما دې پرخپل‌مړوند ويده کړه**
**خپلې ځپلی مې سر ته ډېرې ايښې دينه**

**ما مې لالی ټپو کې ياد کړ**
**د کلي‌خلک مې اوس ډمه يادوينه**

**تاوان د دواړو برابر دی**
**ما ته بايللې يې، تا زه بايللی يمه**

**ترزړه مې تورې وينې‌څاڅي**
**ستا د ببلتون لمبو پر زړه داغلی‌يمه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**بخت مې یاري راسره نهکړي**
**که مې غمی د سلیمان په ګوته شینه**

**بخت مې ویده، غم مې بېدار دی**
**د چا ازار دی، یار مې نهکوي پوښتنه**

**ستا په مسیژ مې نظر خښ که**
**د زړه زخمونه مې نن بیا لیونيدینه**

**سلام په ژبه درقبول که**
**پهکار مې نهدي مسنجر کې سلامونه**

**سترګې په تلو کې راستنيکړه**
**د بیا راتلو لاسونه راکه، ګنې مرمه**

**سپینهخولګۍ په رضا راکه**
**کهنه نارې وهم چې پور نهراکوینه**

**پنجابه بخت ته دې حیرانیم**
**ورونه زما دي، ځان پر تا قربانوینه**

**پنجابه سر دې نغریشه**
**چې پښتانه درباندې، باندې کړي دیګونه**

**پرېږده چې ځان په ژړا مړکم**
**مرګ مې لیده جانان مې نه پخلاکاونه**

**پر زړه به غټهتېږه کېږدم**
**یا به پړقوچوي، یا به صبرشي مئنه**

**په ما یې بل ته ګوتې سرې کړې**
**د یار سپېره نصیب ویده دی، خوبکوینه**

**کړيخبرې مې دروغشوې**
**نه لیونی شوم او نه مړ درپسيشومه**

**ګلاب، ګلاب ځوانانو پرېښوې**
**وطنه چا درته ښېراوې کړيدینه**

**قسم دی ډېر، ډېر مې یادېږې**
**بس یوتصویر ته دې مړې اوښکې تویومه**

**جانان دې بد پر ما ثبوت کړي**
**ولې په خوشيخبر زړه خپل بدوینه**

**خندا په روغوزړونو کېږي**
**له پرهارونو سره څوک خنداکوینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**خوله به په زوروه درنه واخلم**
**کمزوری نه‌یم، چې زاری درته کومه**

**خدایه زما جانان زما کړې**
**یا مې پناه کړې، چې یې نه‌وینم غمونه**

**ویر دې وړه خبره نه‌ده**
**زه پر واړه وجود سکروټې گرځومه**

**ویر دې زما شو، ته د بل شوې**
**مخه دې ښه شه، نور دې نه‌مجبورومه**

**اپخوانۍ مزه دې نه‌شته**
**یا دې زړه سوړ دی، یا دې خلک‌لمسوینه**

**اوس به له بل چا سره ناست یې**
**ورته به وایې چې مین درباندې‌یمه**

**څنگه مَړه ستا په دیدن‌وم**
**څنگه تاله‌واله میدان ته پاتې‌شومه**

**څوک خوشحالیږي، څوک دردیږي**
**هغسې کیږي څه چې خوښه د خدای‌وینه**

**نور پربلۍ راختل پرېږده**
**زه درنه کډه باروم، وطن پرېږدمه**

**ننگ په بې‌ننگو خلکو مه‌کړه**
**ننگ په ما وکړه، څنگ په څنگ درسره‌ځمه**

**ژړا په خپله ځواني راشي**
**په دغه کم عمر مې ولیدل غمونه**

**چې په جانان څوک درشریک شي**
**لکه په شنه‌فصل چې غوا درگډه‌شینه**

**یاري کوه، مه‌منع کیږه**
**په تش دیدن به دې څوک نه‌حلالوینه**

**غنم شنه‌شوي، شړشم گل شول**
**پټو ته راشه، یاره سوال درته کومه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ